د نثرونو مجموعه

# کوبی

د

ډاکټر ب. امیر

د لیکوال له خوا آریک کتابخانې ته

17.3.2002

د نثرونو مجموعه

PROPERTY OF
ARIC
Established 1989

# کوبې

د

PROPERTY OF
ACKU
9934

ډاکټر ب. امیر

# د کتاب په باب

د کتاب نوم : کوبۍ

لیکوال : ډاکټر بسم الله امیر

خپروونکی : دانش خپرندویه ټولنه

کمپوزر : خلیل اُلله "چمن" ذ شفق

د چاپ شمیر : ۵۰۰ ټوکه

لومړی چاپ : ۱۳۷۸ه ش/۲۰۰۰م

دوهم چاپ : ۱۳۸۱ه ش/۲۰۰۲م

چاپ او کمپیوټر ځای

دانش کتابتون، قصه خوانی بازار، پېښور

Ph:2564513/E-mail:danish2k2000@yahoo.com



د کتاب د بیا چاپ ټول حقوق له لیکوال سره خوندي دي.

اهداء

# خپلې مور ته

# په دې مجموعه کې


| شمېره | سرليک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | دا نثرونه | ۱ |
| ۲ | کره خوله په سوک سمېږي | ۳ |
| ۳ | کټه خان لالا | ٦ |
| ۴ | ساقي خانه | ۱۰ |
| ۵ | پکيرک | ۱۳ |
| ٦ | لوی والی خدايي دی | ۱۵ |
| ۷ | کوبۍ | ۱۷ |
| ۸ | نره خبره | ۲۲ |
| ۹ | خليفه | ۲۴ |
| ۱۰ | د کړس خندا | ۲۷ |
| ۱۱ | چغل بازۍ | ۲۹ |
| ۱۲ | ژورې دې ژورې | ۳۲ |
| ۱۳ | د خره خبره | ۳۴ |
| ۱۴ | آخره زمانه | ۳۷ |
| ۱۵ | سترګو ليدلي | ۳۹ |
| ۱٦ | وريندارې... | ۴۴ |
| ۱۷ | کبيره ګناه | ۴٦ |
| ۱۸ | محمود غزنوي که... | ۴۹ |
| ۱۹ | سوګتي | ۵۲ |
| ۲۰ | پلمه | ۵۵ |
| ۲۱ | سادو | ۵۸ |

بسم الله الرحمن الرحيم

# دا نثرونه

د نثرونو دا مجموعه ګۍ چې په ۱۳۷۸ لمریز کال کې خپره شوه، لږ پیدا کېده. اوس چې بیا چاپېږي، ما سر تر پایه وکته یو څو ځایه مې کلمې واړولې راواړولې او د نثر یو څو نوې ټوټې مې هم په آخر کې ورزیاتې کړې.

د لومړي چاپ په سر کې ما ویلي و چې:"که چا د دې نثرونو د هرې ټوټې په لوستو پیل وکه او تر پایه پورې یې ورسوله، نو زه دا د خپل کار برى بولم، ځکه اوس کله کله

داسې څه هم له چاپه راوزي چې سرې يې ځو کرښې يا کوم مخ ولولي، زړه يې ووهي او هيسته يې وغورځوي.

ما د خپلو شعرونو د مجموعې (خر خادر) په پای کې يادونه کړې وه، چې څه جدي ليکنه او تحقيقي کار وي، هغه پريکړې مې په نظر کې وی چې تر اوسه پورې د پښتو املا او ليکدود په باب شوي دي، خو په شعرونو او د نثر په ورو ورو ټوټو او قصو کې تر يوه حده د خپلې يعنې ميدان‌لهجې تر اثر لاندې يم.

نو که دلته هم چاته څه نا اشنا او بل ډول په نظر ورغله علت به يې همدغه دلهجې او سيمه ايزتوب وي."

ډاکټر بسم الله امير

ويانا-۲۰۰۲م

# کږه خوله په سوک سمېږي

یاره خو زور ښه شی دی، په تېره بیا چې سړی په درېیمه نړۍ کې وي، هغه هم په کلي کې. دغلته که زور ونه لرې هېڅ یې. له همدې امله دلته خلک ډېر اولاد غواړي او په دې کې بیا په زامنو زیات خوښېږي ځکه چې یو خو یې کوتک والا په کار دی.

دا خو نو ورکی او په اصطلاح د پیتاوي خبره ده، په لوړه سویه او نړۍ واله سویه هم همداسې ده. که زور نه وای

امریکه کله له ویتنامه وته، که یې په زور نه وای ایستلې فرانسې کله الجزایر پرېښود، که زور نه وای، پرتگال کله پخپل زړه له افریقا ووت او که زور نه وای روسیه کله پخپله خوښه له افغانستانه تله.

د "ملوینس" ټاپو چې انګرېزان یې "فاکلینډ" بولي، د دنیا په هابل سر کې پروت دی، ډار یې نه کېده په ۱۹۸۲ کې انګرېزانو له دې ځایه نورې قواوې ورولېږلې او له ارجنټاین سره یې جنګونه پې وکړه، هغه ده تر اوسه پورې یې په پردي مال خېټه اچولې ده. که ارجنټاین زور درلودای، انګرېزان به په منډه له "ملوینسه" نه وو وتلي؟

هانګ کانګ ۱۵٦ کاله د انګرېزانو مستعمره وه، "دنګ سیاوپینګ" یو وخت "مېرمن تاچر" ته مخ ورواړاو او ورته کړا دي:" تاسې چې هرڅه وایئ، وایئ به، خو په ۱۹۹۷ کې هانګ کانګ زمونږ دی."

دا د زور خبره وه، دغه زور و چې زاړه استعمار چې په همدغه کال په تراټ هانګ کانګ خوشې کړه.

فلسطینیان زور نه لري، پخپله خاوره کې مهاجر دي او په کمپونو کې اوسي. که فلسطینیانو زور درلودای، یهودیانو دغسې انساني ضد کارونه کولای شوای چې اوس یې کوي.؟

دا دی نژدې اته کاله شوه چې تش په نامه د ملګرو ملتو د مؤسسې یو هیأت په عراق کې ښکته پورته ګرځي او هغه د چا خبره تباه کوونکې وسلې له کاره باسي. په دې ورځو کې خبره دې ته رارسېدلې چې دغه هیأت ګواکې غواړي د جمهوري ریاست ماڼۍ هم ولټوي. یک مې لیدلی و، نه ماغزه وتلې، سپین سترګي مې لیدلې وه، نه دغسې سپین سترګي چې دوی ملا ورته تړلې ده. که یې ډار کېدای داسې به یې کړي و؟ که یې سترګه سوی، خوله به یې دغسې کړه خوځولې وه؟ رښتیا ده چې: کړه خوله په سوک سمېږي.

ویانا

١٩٩٨/١٠/٦

# کټه خان لالا

وایي چې د میدان د نرخ په دره کې یو څوک اوسېده، نوم يې کټه خان و، خلکو به کټه خان لالا باله، په لومړي سر کې ښایسته استمن و، خو چې واده يې وکه خواري او نېستۍ مخه ورته وکړه. څه خبر، کور ګډې ارتینې به يې ایله او صرفه نه کوله. مشهوره خبره ده، که نارینه يې په راشپېل کور ته راوړي او ښځه يې د جارو په څوکه له کوره وباسي، د هغه کاله یوه نه دوه کېږي.

کته خان لالا نوره مځکه په خېټه وهلې وه یا ښه ده ووایم په خپله ښځه وهلې وه، لږ و ډېره چې ورته پاتې وه، هغه هم ده پخپله نه کرله، په دهقانی به یې ورکوله. دلته ځینې خلک په خپل کار هم شرمېږي، له خواری آسیاواني کوي او له کبره مزناخلي، که هر څومره خوار وي، بیا هم پخپله سپین لاس سپینې پښې ګرځي، مځکه یې دهقان کاله کوي. د کته خان لالا خو د غویو او تخم وسه نه کېده چې مځکه دهقان ته په شېږمه ورکا، په څلورمه به یې ورکوله. هغه وخت لا موټر نه وو، نو که به څوک کابل ته تله، یا به پیاده خوځېده یا به په خرو مرو سپاره وو، خانانو به آسونه ساتل. کته خان که هر څومره خوار او پور وړی و، د خانی نوم پې پورې و، آس به یې ساته. آس خو نو ښه ساتنه غواړي، شنه او اوربشې ورته پکار دي، د کته خان لالا هسې نوم د آس و، نور دې نو خدای نه درښیي.

د کور له پاره به یې څه سودا په کار وه، کته خان غوښته کابل ته لاړ شي، ارتینې یې پتیری ورته پخې کړې چې یو څه به په څوکی ـ ارغندی کې د سباناري په وخت کې له چای سره وخوري، په کابل کې یې که ځان ته چاینکي واخیسته هغه ده، که یې وانه خیسته، پتیرې خو به ورسره وي.

سهار وختـــي يـې چـې پـه جوماٿ کـې پـه جمـع لمونـځ وکـړ، کټه خان ملا صاحب تـه مـخ ور واړاو چـې نـن لـه خـيره کـابل تـه ځم يوه بله دعـا، حـاضرينو بيـا لاسـونه پورتـه کـړه او د بېرتـه راتلـو د خير دعا يې ورتـــه وکـړه.

کـټه خـان چـې لـه کـوره ووت، سپين سرې مـــور يـــې قـــرآن شـــريف د دروازې پـــه ســـر نيـــولی و، ده لومـــړی ښی پـــښه لـــه دروازې ووېســـته او وووت، بيـــا رانـنـــووت او بېرتـــــه وووت، چـــې درې واره پوره شـوه، کـټه خـان قـرآن شـريف مچـو کـه، لـه ټولـو سره يې خدای پاماني وکـړه، ښځې يـې اوبـه پـه کاسـه کـې نيولـې وې، هغـه يـې هـم پسـې وروشـيندلې. د کالـه واړه او غټ بـام تـه وخاته او تـر هغـو پـورې يـې پسـې کتـل خو کـټه خـان لـه سترګو الونيا شـو.

کـــټه خـــان پـــه آس ســـپور دی، چـــې څه مـــزل يـــې کـــړی، خيـال پلـو ور لـوېدلی چـې پـاچـا شـوی وي، د جشـن ورځ وي، د کره چغ[1] شاوخا برقونـه بـل وهـي، رنګا رنګ بېرغونـه رپـېږي، پـه زرګونـو ننـدارچيـان راټول شـوي وي، پوځونـه ليکـــه ولاړ وي، ده د پـاچـايی کـالي اغوسـتي وي، پـه يـوه خاصـه آس سـپور وي. پـه دې وخـت کـې چـې دی د پوځونـو پـه ليـدو پيـل کـوي او د

---

(۱) په کوز ميدان کې يو غر دی.

دفاع وزیر بولی وایي، چا د شا له خوا غږ پېـ کړی چې "کته خان لالا! ها دما یـوه روپـۍ خو راکـه".

دلته کته خان ته قهر ورغلی، قمچینه یې پورته کړې او سړی یې په دې ښتې کې په قمچینه وهلی چې "د تا څه و څه کړي، زما پاچـایي دې په یـوه روپـۍ ګډه وډه کړه".

# ساقي خانه

يو وخت چې په هېواد کې د جهاد خبره توده وه، د ځينو کسانو[1] غوالګه وه، په پېښور کې يې په يوه او بل نامه دفترونه جوړ کړي وو او په يوه او بله پلمه به يې له بهرنيو ملکو ډېرې ډېرې پيسې ترلاسه کولې، په خپلو خپرونو کې به يې بيا په هغو نورو افغانانو چې له ملکه دباندې سرګردانه او لا لهانده وو، ملنډې وهلې او ويلې به يې چې "دوى هلته بې غمه په ساقي خانو کې ناست دي".

---

(۱) مطلب مې د جهاد لوى مشران نه دي.

حال دا چې په غربي هېوادو کې خواره واره افغانان له بې شمېره ستونزو سره مخامخ وو او لا مخامخ دي، دلته داسې نه ده هغه د چا خبره "قندهار، نان پخته انګور تیار".

په پردي ملک کې اوسېدل هسې د ټوکو خبره نه ده، تر هر څه لومړی دا چې دلته د بومي خلکو مهاجر بدې ایسي او نن ورځ دې خلکو په خپلو حکومتونو دومره زوره اچولې ده چې اوس دلته په آسانه څوک د یوه کډوال او مهاجر په توګه نه مل کېږي او باسي یې، یو لنډ مثال یې همدغه د مې میاشتې د لومړۍ ورځې پېښه ده.

یو پنځه ویشت کلن نایجیر یایي مارکوس او موفوما (Marcus Omofuma) یې په زوره له استریا (اتریش) ایسته، لاس او پښې یې کلک ورتړلي، خو له یې ورپټه کړې، په بالکان ایر (Balkan Air) کې یې اچولی او درې تنه پولیسان یې ورسره کېنولي دي. طیاره چې لیګاس ته په لاره کې په صوفیه کې ښکته شوې ده، ګوري چې خوارکی مارکوس د وخته مړ دی[1].

له دې چې تېر شو، دلته سم کار څنګه پیدا کوې؟ څوک چې کار نه کوي، دولت همدومره ورکوي چې له لوږې ونه

---

(۱) د دغې پېښې تفصیل د ۱۹۹۹ کال د مې د پنځمې نېټې په Kronen Zeitung ورځپانه کې راغلی دی.

مري او په متکې ژوندی پاتې شي. بیا ورځه چې د سړي ګوزاره وشي او ګېډه یې هم ډکه وي بې غمه نشي کېناستی او خپل ملک او خاوره یې نه هېرېږي، د سړي اړخ یوه لوېشت له مځکې جګ وي، آرامښت نلري، دلته خوښي او خوشحالي نشته:

د غربت تر صحت رنځ د وطن ښه دی
عقیق خوښ په ځیګر خون وي په یمن کې

په زړه پورې خبره خو دا ده چې کله جهاد ختم شو او د ګټې لارې بندې شوې، همدغه کسان چې یو وخت به یې په نورو پسې خبرې کولې، ډېري یې اوس پخپله د غربي ملکو په ساقي خانو کې جامونه کړنګوي. البته د دوی او نورو آواره افغانانو ترمنځ توپیر په دې کې دی چې دوی په پېښور کې خپله چاره کړې او ځانونه یې سیټان کړي دي او دا نور د پخوا په شان وچې شونډې ګرځي.

# پکیرک

وایـــي چـــې د ســـپرې میاشـــت یـــوه درنـــده میاشـــت ده، دا میاشـت چـې پـه وتـو شـي، د کلـي هلکـان سره راغونـدېږي، یـوه ته د وړیو رېــره او بـرېت جـوړ کـا، پـه مـخ یـې اوړه وروشـینديي، د یوې اوږدې لکـړې پـه سر یـې جـارو تړلـې وي، هغـه پـه لاس کـې ورکـا او.دا د نـورو هلکـانو پـه لاسـو کـې هـم جــاروګانې وي بیــا دغه رېره والا هلک مخکـې شـي مچیلـه مچیلـه کـېږي، نـور هلکـان

ورپسې وي، هر کور ته ننوزي، ديوالونه په جاروګانو ټپوي او نارې وهي:"سپره ووته، بلا ووته، نيکي راننوته".

بيا نو خداى وس، څوک وريژې ورکوي، څوک اوړه او څوک پيسې. هلکان چې پکيرک ټول کا، بيا مېله کوي.

نه مې هېرېږي، يو وخت مونږ پکيرک کړى و، چې پکيرک ټول شو بيا نو څوک نه سره پې جوړېده چې څه شى پاخه کا، يوه يو څه ويلې او بل بل څه، په دې وو کې يوه نارې کړې: راځئ چې "کړو" پاخه کو.

"کړو" دې ته وايي چې چکه نرى کا، راويې اېشوي، مالګه او کورکمن ور واچوي، بڼ وروکا، ډوډى يې په شينکى کې ماته کړى وي او دا پې راواړوي، غوړي پې واچوي او خوري يې. دا د "کړو" خبره وه.

يوه بل نارې کړې چې هر څه پاخه کو په يوه شېبه کې به وخواړه شي او خلاص به شي، راځئ دا وريژې او اوړه دوکان ته يوسو، خرڅ يې کو او په پيسو يې ګوړه واخلو، د ګوړې چکى بم په جب کې پرته وي، کله کله به يې راباسو څټو به يې او بيرته به يې په جب کې اچوو، ورځې ورځې بم خولې خوږې وي.

# لوی والي خدايي دی

یو خوک په یوه وړه کوټه کې ځايېږي، يو بل خوک په يوه لوی ملک کې نه ځايېږي. لوی والي په خېټه نه دی، په دې نه دی چې د يو چا خېټه غټه وه هغه نو لوی دی يا يې ونه پسې جګه شوی وي او پسې جګه شوي وي، پروټ ترې جوړ وي، نو هغه لوی دی.

نه، لوی والي خدايي دی. عبدالله اوجلان [1] خدايي لوی دی، په سوريه کې ځای نه شو، روسيه د ده له پاره تنګه وه او اوس په ايتاليا کې نه ځايېږي.

(۱) عبدالله اوجلان په ۱۹۷۹ کال د کردستان د کارګرو ګوند (Pkk) بنسټ کېښود، په کال ۱۹۸۰ په ترکيه کې له کودتا وروسته له هغه ملکه ووت، په ۱۹۸۴ کې يې د ترکيې د نظاميانو په ضد وسله واله مبارزه پيل کړه.

ښايي چې اصل او نسل به هم څه اغیزه لري، که نه آسونه خو ټول آسونه دي، نو عربي آسونه ولې دومره ځیرک دي او په ټوله نړۍ کې داسې نوم لري.

ښايي په انسانانو کې به هم دغسې وي، د نیکونو نښې نښانې به يې زوزات ته رسیږي، که مېړانه وي مېړانه او که سپیتانه وي، سپیتانه.

صلاح الدین ایوبي د اسلامي نړۍ یو ډېر لوی شخصیت و چې په توره او مېړانه يې دتاریخ پاڼې وياړي. نه یم خبر چې دا وجلان په خته کې د صلاح الدین ایوبي څه نښه او اثر دی که څنګه چې دومره لوی دی، داسې چې په لويو لويو ملکو کې نه ځایيږي.

د کردستان د ( پ ک ک) مشر اوجلان د خپل ولس او خپلو خلکو د حق اخیستو له پاره راپاڅېدلی، لکه غر ولاړ دی او دا کلونه کلونه شوه چې د ترکیې له نظامیانو سره جنګیږي.

اوجلان که په روم کې نظربند وي، که د دغه یا بل ملک په زندان کې وي او یا يې څوک محاکمې ته راکاږي، دی لوی دی، خدایی لوی دی، لویان خدای په لویه ورځ پیدا کړي.

ویانا

۱۹۹۸/۱۱/۲۸

# کوبی

دلته خو ځوک د نېستمنو او خوارانو نوم هم سم نه اخلي، که جلیل نومېږي، جلی ورته وايي او که يې نوم خير محمد وي، خيری يې بولي. دلته دا رسم دی که خان يا ملک نوی لنګوټی په سر کا يا نوي کالي واغوندي، ټول ورته وايي مبارک دې شه او که د خوار په ځان کې چا نوی شی وليده وايي له کومه دې که؟.

زمونږ په کلي کې يو خوارنجوکی سړی اوسېده، نوم يې رحمت الله و خو ټولو به رحمتی باله. اټکلي وايم چې د پنځه څلوېښتو يا شپږ څلوېښتو کالو به و، اټکلي ځکه چې دلته ډېريو ته خپل عمر نه وي ښکاره، تش دومره پوهېږي چې مثلاً د سقاوۍ په کال زېږېدلی دی يا يې له موره اوږېدلي وي چې د طاعون په کال يې خاپوړې کولې.

رحمتي وروسته واده کړی و، يو ابلوڅکی زوی يې و او دوه ورې ورې لورګانې. خدازده چې د ښځې نوم يې څه شی و، مګر خلکو به غټه بلله. رحمتي به کله د يوه دهقاني کوله او کله د بل، کله به په يوه کلا کې اوسېده او کله په بله کلا کې، خپله يې نه مځکه درلوده او نه کوټې. رحمتي به کړی کال دهقاني او خواري کوله او له هېڅ کاره يې مخ نه اړاوه. ښځې به يې که طالع درلودې او د خان د کور کالي مالي به يې پرې مينځل، نغدې روپۍ خو نه وې، يا به يې دوه درې پخې ډوډۍ په لاس کې ورکړې او يا به يې څو لپې غله په پلو کې وراچوله.

په ياد مې دي، يوه ورځ غټې سرلوڅاوه او د خان کاله ته يې دعاوې کولې. ويلې يې چې د خان کور دې خدای نه خرابوي، ها بله ورځ يې لږ چای راکړی و، بېګا مې چې دم که، خاوند مې داسې ژبه پې تړ کوله چې خدازده.

دوی تــه خــو غلمینــه ډوډۍ نــه رسېده، زیـاتره بــه یــې تــوره ګډولــه کولــه، دوه برخــې بــه یــې بــاکولي کــړه او یــوه برخــه غنــم، باکولي به یې له خواری نــه دلـول او لـه پوستکیو سره بـه یـې پـه غنمو ورګډ کړه او ژرندې تـه بـه یـې یوړه.

د دوی لــوی کتــغ تــروې او ســابه وو، ســابه بــه یــې لــه پټیــو راټولول، څه به یې سم لـه لاسـه پخـول او ورځ بـه یـې پـې تېرولـه او څه بــه یــې د ژمــي لــه پــاره وچ کــړه او پــه منګــي کــې بــه یــې واچول. تروې به یې د هغــه چــا لــه کــوره راوړې چــې غــوا بــه یــې درلــوده. دلتــه تــروې هــم داســې نــه دي چــې هــر چاتــه دې پرېمانه ور ورسېږي. پخپلــه پــه رحمتــي تېره ده چــې یــو وخــت لــه چــا ســره مــزدور و، غرمــه یــې پــه یــوه مــړۍ وچــه ډوډۍ پســې دوه غــړپــه تــروې شــکلې وې، بــادار یــې لــه مــزدورۍ شــړلی و چــې تــه اوس پــه یوه مړۍ پسې دوه غــړپــه کــوې.

کلــه بــه چــې تـول پتــۍ نــه و کولبــه شــوی، کــه بــه هــر څومــره ګرمي وه او یا به دی سترې و، تــر هغــو پــورې بــه یــې کولبــه کولــه، څو به یې پتۍ واړاو. کلــه بــه چــې ناوختــه شــوه، غــتې بــه د غرمــې ډوډۍ یــا نــه ده ووایم د ماسپښین ډوډۍ پتـي تــــه وروړه.

یــوه ورځ ګــورم چــې د غــتې پــه یــوه لاس کــې د لــرګــي کاســه ده او پــه بــل لاس کــې یــې پــه یــوه پیونــدي خړبخونــه ټوټه کــې څه شــی راتــاو کــړي دي، هغــه وړکــی وړکــی لــور یــې هــم ورســره

ده او پټي ته راغله. رحمتي کولبه ودروله، په بياله کې يې لاسونه پرې مينځل اوپه پوله کېناست چې ډوډۍ وخوري. په کاسه کې تروې وې او په هغه خړه ټوټه کې د ژنکيو پيرکي. ماته يې ست کاوه چې ته يې هم درواخله، ما که هر څومره وويلې چې ډوډۍ مې خوړلې او موړ يم، خو دی زښته زيات راته ټينګ شو، اخر ما هم لاس ورښکته که او يوه مړۍ پيرکی مې راواخيست، خو چې خولې ته مې که، مسلمانه داسې ستوغ او توند غوړ يې پکې اچولي وو چې څه به درته وايم او د پيرکي په اخيستو پښېمانه شوم. طاقت مې ونشو رحمتی مې وپوښتېده چې دغه د څه شي غوړ دي پکې؟ ده ويلې دا د کوبۍ غوړ دي د کوبۍ. زه په چوټ کې لاړم چې دا کوبۍ لا څه شي وي، ماته دومره ښکاره وه چې خلک دغه د اوبو د سر حبابونو ته کوبۍ وايي، بله کوبۍ ماته نه وه معلومه. بيا مې زړه طاقت ونه که او رحمتي ته مې ويلې چې رحمتيه! دا کوبۍ لا څه شی وي؟ هغه دې نه وړي نه دې راوړي او غوټ به غوټه دې راته کا:

مړه! ته چې کوبۍ نه پېژنې، نو څه شی به پېژنې. ته خو ډېر کاله دلته مکتب ته تلې، په کابل کې دې هم درس لوستی، خو تاته لا تراوسه پورې کوبۍ نه ده معلومه. بيا دې کا چې زه په اخر منې کې دوکان ته لاړ شم، يو د پسه لری

واخلم او په تول او ترازو نیم من وازده. لری تش کم، پاک یې پرې مینځم، بیا دغه وازده مې وړې وړې ټوټې کړې وي او په لري کې یې تخته کم، بیا دغه لری د کوټې په چت کې رازوړند کم. دا د تناره او نغري اور چې بلېږي، دود یې په دغه لري باندې لګېږي، بیا نو چې د سبو په یوه لویه کټوه کې هم د دغې وازدې یوه وړکی ټوټه واچوو، ټول سابه په تبې کېږي، وګوره دا پیرکی څنګه خوند کوي. اوس خو به پوه شوی یې چې مونږ دغه لري ته کوبی وایو.

ما ده ته غږ ونه که خو په زړه کې مې له ځان سره ویلې چې یاره رحمتیه زه له دې کوبی تېر یم، خدای دې بیا د کوبی وزاده نه راباندې خوري.

# نره خبره

طالبانو چې مزار ونيو او په ښار ورننواته، نو په دې جنګ جګړو کې ښکېل ځينې ايرانيان هم ووژل شوه او ځينې يې افغاني جنګياليو ژوندي ونيوه.

دلته په ايراني واکوالو ګڅکه سره شوه او تندارو ته يې زور ورکه چې دغه دي زمونږ ديپلوماتان يې وژلي دي، مونږ يې کله پرېږدو، خوم انتقام نه وي اخيستی په ځای به کېننو، دا ده او هغه ده.

يو ځل وايي چې دغه دي زمونږ اويا زره سپاه پاسداران انقلاب د افغانستان پولو ته نږدې نظامي تمرينونه کوي، بيا

وایي چې نورو څولکو عسکرو هم په دغو مانورو کې برخه اخیستې او دومره ټانکونه او دومره جنګي طیارې ورسره دي.

خو ښکاره ده چې دوی هسې پښې ډبوي او ډاروول کوي، ځکه یو خو یې له عراق سره جنګ لا نه دی هېر، عراق نو په دوی څه وکړه! غوږ یې پې ونیو، توبې یې پې وویستې، څو کاله جنګ روان و، په زرګونو ایرانیان پکې مړه شوه، لوی مالي تاوان ورواوښت او په پای کې لر شوه.

بل ایرانیان په دې ښه پوهېږي چې که له افغانستان سره ونښته، د نورو هم زړه ورته ډک دی، همدا به یې ورکه وي، نو دوی چې هر څومره اروتور او ګواښونه کوي، هغه ده افغانستان نه معافي غواړي او نه د دوی په خوله بندیان ورخوشې کوي.

مګر دلته تر ټولو په زړه پورې خو دا ده، وایي یو چا ملا محمد عمر ته خبر وروړ چې ایرانیانو دومره عسکر او دومره ټانکونه د افغانستان سرحد ته راغونډ کړي دي.

وایي چې ملا محمد عمر مخ وروااړاوه او په ډېره سړه سینه دې ورته کا: " باره، پرېږده یې، دوی به خپل کار کوي، موږ به خپل کار کوو."

PROPERTY OF ACKU 9934

ویانا

۱۹۹۸/۹/۱۴

# خلیفه

که پخپله له ده پوښتنــه وکـې، وايـي سـلماني يم، خـو پشـې شـا يـې خلـک ډم بـولي، ځينـې ګلابــي، مطـرب او دلاک هـــم ورتــه وايي، مخامخ ټول ورتــه وايــي خليفــه.

هغه ډمــان چــې پــه ښارونــو کــې اوســېږي، ډېري يـې دوکانونـه لـري، د خلکـو سـرونه جـوړوي او خپلـه اجـوره اخلـي، خـو هغــه ډمان چې په کليــو کـې دي، لــه ښاري ډمـانو سـره يـې کـار تـوپـير لـري. يـو ډم د کلـي د وړو او غـــټو ســرونه جـــوړوي، پـــه واده او مـړي کـې اشـپزي کـوي او خلـک راخـبروي، پـه ودونـو او کـوزدو کـې ډولونـه وهـي، د ښادۍ پـه شـپو کـې سـازونه کـوي، همدغــه شان هلکان سـنتوي، غاښونـه باسـي او ښکـر لـګوي.

دوی تـه کلیـوال د سرړي پـه سر یـو مـن دوه منه یـا څه کمـه زیاتـه غلـه ورکـوي، پـه ودونـو کـې د نکـاح پـه وخـت کـې ګل[1] ږدي او پیسـې اخلـي، د لـو پـه وخـت کـې کـودې ټولـوي چـې واوره ولـوېږي خلـک اوړه یـا وریـژې، دلانـدي غـوښه او غـوړي ورکـوي.

مـګر خلیفـه اودل پـه حجـامت، اشـپزۍ او طبـابت عـلاوه، کوډې هـم کولـې، پـه تـېره بیـا د قوالانو[2] پـه منـځ کـې یـې پـوره نوم درلود، بدعمـره ښځې بـه ورتـه راتلـې چـې کـوډې راتـه وکـه. خلیفـه اودل بـه لومړی ورتـه ویلـې چـې لاړه شـه یـو چـارک اوړه واخلـه، نیـم چـارک بـوره یـا ګوړه او نیـم چـارک غـوړي، پتـیرې ځنې پخـې کـه چـې زه یـې پـه زاړه قـبر کـې اچـوم، د ده خـو مطلب خپـل نـس و.

---

(۱) د نکـاح پـه وخـت کـې خلیفـه درې څلـور ایشـولې هـګۍ پـه دسـمال کـې تـړلې وي او د زوم د نـژدې خپلوانـو پـه مـخ کـې یـې ږدي، هغـه دوی بیـا پیسـې ورکـوي. نـن ورځ دا یـوه لویـه سـیالي ده او هـر څوک کـوښښ کـوي زیاتې پیسې ورکـا او نـوم وباسـي.

(۲) دغـه طایفـه پـه اول پسـرلي کـې لـه مشـرقي راځي او د میـدان پـه نـایب خیلـو کـې اړوي، سپینې سپینې خېمـې لـري، پـه پټیـو کـې د خټـو کـوټه ګۍ هـم جـوړوي. نارینـه یـې پـه خـرو او اسـو رختونـه پـه کلیـو کـې خرڅوي او ښځې یـې تـار او ستنې او دغسې د بنجارګۍ نـور شـیان پلـوري. دوی پـه پښتـو او دري دواړو خـبرې کـوي او مخصوصـه لهجـه لـري. دغـه قوالان بیا په اخر منـي کـې بېرتـه مشرقي تـه ځي.

بـل بـه يـې يـوه تـوره چـرګه تـرې غوښتـه او پيســې يــې هــر څومره چې غوښتې هغـه خـدای خـبر. دا شيان بـه يـې چـې ورتـه راوړه، خليفـه اودل بـه يـوه شـکه ورکـړه چـې کـه هـر وخــت دې مېره وهلــې، دا شـکه دې تـر غـاښ لانـدې ټينـګه ونيسـه، هـېڅ مـه وايه او ځان غلــی کـه.

چــې ښځې بـه دغسـې وکـړه، د مـېړه بـه يـې زړه پـې وخــوړېد، نه يوازې به يې له وهلــو لاس واخيسـت بلکـه بيخـي بـه يـې خپـل چلنـد اوَ سـلوک هـم ورسـره بـدل کـه. پـه دې شــان د قوالانــو د ښځو سـل پـه سـلو کـې دا بـاور و چـې خليفـه اودل يــو ډېر پــوخ کـوډګر دی. پـه خليفـه اودل بـاندې داســې ښځې رامــاتې وې او داسې پيســې يـې اخيسـتې چـې زړه دې وي.

# د کرس خندا

ها بلــه ورځ دلتــه زمونـږ پــه کــور کــې ناســت وو، لــه خپـل يـوه افغان هلکـي سره مې خـبرې کولـې، دی په پوهنتـون کـې نـوی شـامل شـوی، ښه ځک او ځيرک هلــک دی، تراوســه پــورې يــې دوه سمســتره درس لوســتی او ښايســته ښې نمــرې يــې اخيســتې دي. هسې خـبره راغلـه، نـو مـا ورتـه ويلـې چـې زويـه مونـږ خـو لومړی افغانان يو او بيا په افغانــانو کـې پښتانـه يـو، مونـږ بـايد دغـو اتريشـيانو موتريشـيانو تـه ونـه ګورو، هـر څه چـې هغـه دوی کــوي، مونـږ هغسې وکړو، ځکـه مونـږ بـېل کلتـور لـرو، دوی پرېږده هـر څه چې کوي، مونــږ بـايد خپلـه پښتونـولي بـاى نـه لـو، داسې نـه چې وايي "درکان نمـک رفـت و نمـک شـد".

مونږ ته بـايده دی چـې پـه دې ټولنـه کـې اوبـه او سـره منحـل نشـو، البتـه د دې خـبرې معنـا دا نـه ده چـې مونـږ دې د دوی ښه

کاروونه له یاده وباسو. نه د دوی ښه به رااخلو، خپو په پتو سترګو به د دوی د هر کار پیښې نه کوو.

ما چې ده ته دغه خبرې کولې، نو ده به په دې منځ منځ کې بیا بیا ویلې چې زه غواړم خوشبخته اوسم. ده دا خبره دومره تکرار کړه چې نور نو زما په کوګل کې حوصلې ته ځای پاتې نشو او هسې بې اختیاره مې له خولې ورته راووتله چې هلکه! ته خوشبختي او نېک مرغي څه ته وایې؟ نېک مرغي دې ته وایې چې د سړي خېټه ډکه وي، څه سوتره کالي یې اغوستي وي، یو کورګی ولري او له ښځې سره پکې ناست وي؟ که خبره یوازې د خېټې او هوساینې ده، نو د ځناور بڼ خره خو دلته تر ټولو خوشبخته دي، ځکه چې په ګېډه ښه ماړه دي، څوک بار مار نه پې وړي، ځای یې هم ښه دی، هره ورځ څو څو واره خرخره کېږي، هرې خوا ته چې منډې وهي، وهي یې.

یاره هلکي چې زما دا خبره واورېده، داسې په کړس یې وخندل چې څه به درته وایم. دلته زما وار له واره له خولې ورته راووته چې زویه! نغده دې واورېده، ځنګه دې په کړس وخندل!.

ویانا

۱۹۹۸/٦/۴

# چغل بازي

اوس هم په کليو کې ځلميان خان ته نجلۍ نشي خوښولی، بلکه دا کار يې خويندو ميندو ته ورپه غاړه دی. مخکې يا وروسته له "وړکی دسماله" هم هلک خپله نجل نه ويني تر څو پورې "بوله" وشي او "لوی دسمال" واخلي. بيا هم داسې نه ده چې هلک دې برالا او په خلاصو تيو د خوسر کره ورشي.

نه، هلک کله کله د شپې ورځې او سهار وختي بېرته ځي. په دې ورتګ باندې بيا زياتره يوازې ښځې خبرې وي او هغه کېږي چې نارينه خبر نشي، که نارينه خبر شي بيا بدخويي کوي، کاسه په چمچه ولي او چمچه په کاسه.

هلک چې چغل بازيو ته ځي، ښه کالي واغوندي، ځان جوړ کا، که د تازه مېوې وخت وي، تازه مېوه ورسره وړي او که د وچې مېوې وخت وي، وچه مېوه.

دا خو نو خوسرګنی ته نه وي ښکاره چې هلک په کومه شپه چغل بازيو ته ورځي، بيا چې ورشي او ناوخته هم وي، خوابښې يا ښينه به يې څه شی مخې ته ږدي؟ هلته خو بازار او دوکان نشته، کلی دی.

دلته نو يا هګۍ دي او يا لېټی. کله کله بيا چې هلک دباندې چېرې خپلو همځولو سره ناست وي، باتې وهي چې بيګا مې د خوسر کره تللی وم، خوابښې مې هګۍ راته پخې کړې وې، والله څلور ګوتې غوړي يې راته پکې درولي وو.

لېټی داسې ده چې په مالګه سرو اوبو ته اوړه ور واچوي، نرۍ نرۍ اور پې پسې وي او په غټه چمچه يې لړي او پسې لړي چې مرغېړې مرغېړې رانشي. نو چې پخه شوه بيا يې په غوري يا مجمه کې باسي، چيتوي يې، په منځ کې يې څرخنی جوړوي او په څرخني کې غوړي اچوي. بوره خو هغه وخت چاته نه رسده، يا به يې شکره پې دوړوله او که به شکره نه وه، ګوړه به يې ورته مېده کړه.

وايي چې زمونږ په کلي کې "کوز زيارت" سره يو څوک اوسېده، ښځه به يې خلکو خرساته بلله، دی چې هر څه

نومېده، نومېده به. لور یې ورکړې وه، کومه شپه هلک
چغل بازیو ته ورغلی، خرساتې لېتی باندې کړې ده، چې لېتی
پخه شوې، ګوري چې شکره نشته، طالع یې وې، ګوره یې په
ګور کې وه.

اوس حیرانه ده چې دا ګوړه به څنګه مېدوي، که په ګوړه
مېدۆلو پله پسې ډز و ډوز واچوي، په بله کوټه کې به یې مېړه
خبر شي. چل یې کړی، د ګوړې چکۍ او یو غونډاری یې په
لته باندې څنګ ته ایښي او جارو یې رااخیستې ده، دې به
جارو کوله جارو کوله، یو ډز به یې په ګوړه وکه، بیا به یې
جارو کوله جارو کوله، یو ډز به یې په ګوړه وکه او په دې شان
یې ګوړه میده کړه او مېړه یې پې شکمن نه شو.

نو له یوه پلوه چې خرساته اور ته ناسته وي او لېتی یې
پسې لړلي وي او پسې لړلي وي، دغسې یې په ګوړه باندې د
غونډاري ډزونه کړي وي، له بل پلوه به ډار ورسره و چې نه
ویل کېږي مېړه یې خبر شي، نو که په دې وخت کې سړي
لیدلی وای، خدازده چې دا به څنګه تلولی وه او څنګه
خولې به پې راماتې وې، بېچاره خرساته.

# ژورې دي ژورې

دلته د Die Presse ورځپاڼې پخپله ننۍ ګڼه کې د بهرنيو ورځپاڼو لنډکۍ لنډکۍ ټوټې را اخيستي دي چې په دې کې د لندن د THE TIMES يوه ټوټه هم شته او هغه دا ده:

"د ايران قهر او غصه په ځای ده، په تېره بيا چې د نړۍ د بشر د حقوقو موسسو په افغانستان کې د شيعه ګانو د بې رحمانه عامو قتلونو رپوټونه ورکړي دي. که چېرې ايران په افغانستان باندې بمونه واوروي، داسې کسان به لږ پيدا شي چې پې خپه شي. ځينې لاهيله لري چې دا لانجه به د دغو دواړو رژيمونو د تباهۍ سبب هم شي، خو لس کاله پخوا د ايران او عراق په جنګ کښې دغسې يوه هيله تر سره نشوه".

دلته ګورو چې له یوه پوله دوی د منافقت لـه مخې ځان بشردوسته معرفي کوي، د شیعه ګانو د وژل کېدو خبره راپورته کوي او خپله غم شریکې ښيي، له بل پلوه په څومره بې شرمۍ وایي چې که چیرې ایران په افغانستان بمونه وغورځوي، څوک به پې خپه نشي.

بل دوی څومره په دې ارمان کې دي چې افغانستان او ایران په خپلو منځو کې سره ولوېږي او تباه شي، نه یوازې اوس دغه دوه ملکونه، بلکه څو کاله مخکې یې لا دا هیله درلوده چې په خپل منځي جنګ کې به عراق او ایران دواړه پوپنا شي.

اوس نو هر سړی په دې ښه پوهېږي چې د دغو استعماري او استثماري طاقتونو د بشر د حقوقو دعوه دروغ او په منافقت ولاړه ده، دوی نه غواړي چې اسلامي او درېیمه نړۍ په خپلو پښو ودرېږي.

وګورئ چې دغه استثماري طاقتونه څومره ناولی او چټل وجدان لري، دوی د نورو ملتونو وینو ته تږي دي، دوی د خلکو وینې څښي، دا ژورې دي ژورې.

ویانا

۱۹۹۸/۹/۱۹

# د خره خبره

په کليو کې تراوسه پورې داسې ده چې هلک مېرانه ووهي او د واده شي، دی نه بلکه مور خور يې ښځه ورته خوښوي او بيا کوزده ورته کوي. دا نو داسې آسانه هم نه ده چې هر هلک ځوان شو او ځوک کوزده ورته وکا. دلته "بولې" دي، "ولورونه" دي، "ختې" دي او د واده نور خرڅونه ږځونه دي، د اختر "جوړې" دي اولا کله کله "شل" هم پکې راشي.

نو د هر چا لـه وسـې نـه ده پـوره چـې خپـل زوی يـا ورور تـه دې ژر واده وکا. ډېري د پاخــه عمـر وي، ودونـه يـې لانـه وي کـړي.

يوه شپه يـې چـې ډوډۍ سـره وخـوړه، مـېړه او ارتينـه لا ناسـت وو، سـره غـږېده، زوی يـې يـوې خـوا تـه ډډه واچولـه او سـر يـې کېښود، خــوب نـه ورتـه خـو سـترګې يـې پټې نيولـې وې او پـروت و.

دلتـه يعقـوب لالا تـه يـې ښځې مــخ ورواړاوه او ورتــه کـا دې چـې سـړيه! د هلـک د واده وخـت دی، تــرڅو پــورې بــه جـره ګرځي، آخرلـــږ ځان وښوروه.

يعقـوب لالا دې کـا چـې ښځې! خـدای مـې وينـي او تــه مـې وينې، تشه لاسه ته مـې دښمـن يـې. ښځې! تـه خپلـه پوهـېږې چـې نــن ورځ واده د سـړي مــلا مــاتوي، زمونــږ پــه متکــی ګوزاره کېږي، دومره ده چې هغــه لـه مـرګه بـچ يـو، مونـږ بـه پـه څه شـي واده ورته وکــو؟.

ښځه يـې لـږ شـېبې پـه چـوټ کـــې لاړه، بيــا يـــې مــخ ورتـــه راواړاواو ورته کا دې چـې سـړيه! دغـه خپـل خـر بـه خـرڅ کـو، دا د کــوزدې مـوزدې کـار بـه پـې وشـي، تـر واده پـورې بيـا خـدای مهربانــه دی، نــه دې دي اورېدلي چــې وايـــي "خولــۍ پورتـــه واچوه، څو پورې مځکې تــه رارسـېږي يـا الله يـا نصيـب".

يعقوب لالا چې په ځیره کې یې د نامېندۍ او ځېګان نښې له ورا ښکارېدې، ورته وویل چې نن ورځ واده کول هسې د ټوکو خبره نه ده، تر څو پورې دې جب ډک نه وي، د واده خبرې مه کوه.

په دې منځ کې دوی په دې باب نورې هم څه خبرې لاندې باندې کړې بیا یې دا موضوع پرېښوده او د ژوند نورې خبرې یې راواخیستې.

هلک چې هسې پروت او ویده لا نه و، غوښته یې چې مور پلار یې بیا د کوزدې خبره راواخلي، خو هغو دوی خپلې نورې خوارۍ غریبۍ ژړلې.

هلک ډېر ځان ټینګ که، خو آخر یې چې طاقت ونشو، سر یې راجګ که او په ډېر عصبانیت سره دې کا: "خو هغه د خره خبره رواخلئ کنه".

# آخره زمانه

د آخرې زمانې د نښو او د قيامت د رانژدې کېدو په برخه کې ډېرې خبرې شته او هر چا له خپل ځانه يو څه پې زيات کړي دي. ځينې وايي چې په آخره زمانه کې به خلک يو د بل له زړه خبروي، ګواکې پوهېږي به چې د يو بل چا په زړه کې څه تېرېږي. نور بيا د قيامت د رانژدې کېدو نښه دا بولي چې خلک به کټه مېره شي، هېڅوک به د چا پروا نلري، تر دې چې زوی به په پلار کې ری نه وهي او پلار په زوی کې، مور به له لوره خبره نه وي او لور له موره. د قيامت د رانژدې کېدو په نښو کې بيا دا راځي چې يو خو به قيمتي شي، داسې

چې يــوه هــګۍ بــه ځو زرو تــه وخــېژي، بــل بــه دروغ زيــات شــي، ځوک به په آسانه رښتيــا نــه وايــي. دغســې بــه شــر او فســاد او فتنــې ډېرې شــي، طبيعــي اپتونــه او مصائب بــه زيـــات شـــي، جنــګ او جـګړې بــه روانــې وي، خــو پــه دې برخــه کــې تراوســه پــورې چــا دا نه دي ويلي چــې پــه آخــره زمانــه کــې بــه لــه خلکــو د آتې سر ورک شي، د ضروري او حياتي شــيانو پــه فکر کــې بــه نــه وي، شــپه او ورځ بــه پــه دې کــې وي چــې مثــلاً ځوک ډېــره لــري او ځوک يــې نــه لــري، د چــا ډېــره اوږده ده او د چــا لنډه. لټوي بـــه يـــې چې يو چا پخپله ډېره کــې بيــاتي وهلــې او کــه نــه، کــه ځوک ډېــره ونلري يــا يــې پخپلــه ډېــره بــاندې بيــاتي ځغلولــې وي، بــدرد ورتــه وايي او وهي تکوي يې، خو کــه پــه روغتــون کــې آکســيجن يــا نــور ضــروري درمــل نــه وي، ځوک يــې لا هــم نــه پورتــه کــوي. کــه پــه شفاخانه کــې د دوا د نشــتوالي لــه املــه يــو انســان مــري، ځوک ږې نه په کې وهــي، خــو کــه د چــا ډېــره لــه يــوې قبضــې يــا دوو قبضــو لنډه وي راشــه کــه يــې ګورې.

نو نه يم خبر چې په هــا بلــه دنيــا کــې بــه خــدای ځوک نيســي، يــو بــې ډېــرې او لنډ ډېــرې يــا هغــه ځوک چــې بــې ډېــرې او لنــډ ډېــرې ځوروي، خــو پــه دې کــې چــورت هــم نــه وهــي چــې پــه روغتــون کــې د درملــو د نشــتوالي لــه املــه د خــدای بنــدګان مــري؟.

# سترګو لیدلي

سړی چې په پېښور کې په خیبر روډ باندې مخ په هوايي هډه روان وي، ښي لاس ته په يوه تنګه کوخه کې يو دفتر دی، دوی يې سپېشل برانچ (Special Branch) بولي. دا نو چې يو خارجي پېښور ته ورسېږي که دغلته له يوې مياشتې کم پاتې کېږي، په لومړي سر کې يې ورتګ په کار نه دی، خو چې بېرته ځي، هغه د چا خبره، خروجي باید واخلي. مګر که

څوک له یوې میاشتې زیات پاتې کېږي، بیا یې هم په لومړۍ سر کې ورتګ شته او هم چې بېرته وزي.

یاره خو که رښتیاراباندې وایې، ما دغلته نور خارجیان ونه لیده، داسې څوک مې ونه لیده چې شنې سترګې او ژیړ وېښتان یې وي، که زمونږ د ګاونډیو ملکو څوک وو، هغه ما نه پېژانده. دغلته که وو که نه وو همدغه زمونږ پاسپورټ والا افغانان وو او بس.

سپېشل برانچ نویو د ننداړې ځای دی، په یوه لویه کوټه کې درې خواوو ته مېزونه ایښي او شاته یې کاتبان ووایم او که مامورین ووایم ناست دي. دوی نو په یوه حساب، تاسې به یې ونه منئ، بس پیسو ته ناست دي.

زه بېرته راتلم، ورغلم خپل پاسپورټ مې یوه ته ونیو چې خروجي غواړم پاسپورټ یې واخیست، بنکته پورته یې که، منځ یې وکوت، بېرته یې راکه چې ته صبر وکه کښېنه.

کاته مې چې یو رنګه همدغه زمونږ افغانان راځي، خپل پاسپورتونه ورکا،په نیمه ګانټه یا څه زیات کم وخت کې یې کار وشي او بېرته ځي. ما ټیک یو ساعت انتظار ووېست، خو چا پوښتنه قدرې هم راشکه ونه کړه. بیا ورجګ شوم او پاسپورت مې ورته ونیو، بیا دې کا چې ته صبر وکه. د سترګو له کونجو مې ولیده چې زمونږ یوه افغان د کالدارو یو سلګون

لوټ په پاسپورت کې ایښی او وریې که. دلته زما هم سد سرته راغی چې سړیه په خبرو پسې څه ته ګرځې، خپل کار رواج که.

دستي مې یو سلګون په پاسپورت کې کېښود چې یوه شونګه یې راوتلې وه. دا وار مې چې پاسپورت ورته ونیو او په لوټ یې سترګې ولګېدې، نو کا دې: "جي، ته ډېر ټال شوې، بس په څو منټو کې به دې کار وشي، ته مهرباني وکه کېنه". رښتیا مې هم په څو دقیقو کې کار وشو، پاسپورت مې په جب کې واچاو او راووتم.

زه خو د دغه ملک له نورو څانګو او دفترونو، نه یم خبر مګر هوایي میدانونه یې ښه پېژنم، ترخو پورې له سرې،په تېره بیا زمونږ له افغانانو، پیسې ونه شکوي، نه یې پرېږدي. خو چې سپېشل برانچ مې ولید، هک پک پاتې شوم چې یا خدایه! دا څه حال دی، دا خلک خو په رڼا ورځ او رډ برالا رشوتونه او بډې اخلي. عجبه دا ده چې دغه بډې خواره ټول بیا پښتانه هم دي. رښتیا ده چې "کوټه ښکاري شي، لا بد وي".

نو چې له سپېشل برانچه راووتم، په کوڅه کې ریکشا نه وه ولاړه هسې په پښو راوخوځېدم، چې په عمومي سرک ورګډ شوم کاته مې چې یو سړی مخ په صدر روان دی، په لاس کې یې قفس نیولی او له قفسه یو کوهدامنی کبش راتاو دی.

ما لـه خبرې او کـاليو وپيژانـد چـې افغـان دی، وروورو ورنـژدې شـوم، لـه څه لنډ جـوړ تـازه نـه وروسـته مـې وپوښتـېده چـې پـه قفـس کـې څه دي؟ ده د کـېښ خنـډه پورتـه کـړه، ګورم چـې دوه غټ غټ مرغـان دي پکـې، وزرونـه يـې ښکتـه ښکتـه پراتـه دي، ټونـګې يـې وازې وازې نيـولي، پـه قفـس کـې مـې ښکې وليدې، خو د اوبـو پيالـه نـه وه.

ومې پوښتـېده چـې دې مرغـانو تـه څه وايـي او څه پـې کـوې؟ ده ويلـي:" دا بـازان دي بـازان، دلتـه د عربـانو نمـاينده تــه مــې راوړي دي. هغـه مـارنګي لـېږي، د افغانسـتان پـه غـرو او درو کــې ګرځي، بـازان او بـاښې رانيسـي، چـې رايـې وړي، بيـا دی پيســې ورکـوي".

چـې هـر څومـره مـې ټينـګ کـه چـې څومـره پيســې؟ خــو ده حال راته ونـه ويلـې. پـه زړه کـې مـې تـېره شـوه چـې يـا خدايـه! زمونـږ ملـک دې لا پـه څه مصيبتونـو اختــه کـړی، نــور خــو څه کوې، وحشي مرغان او ځنـاور هـم نـه راپـاتې کـېږي.

اورېدلي مـې دي، کـه طالبـان د چـا پــه لاس کـې د مرغــانو قفس ووينـي، نــه يـې پـرېږدي او پـې خوشـې کـوي يـې. نـو کـه دا خبره رښتيا وي، څومره ښه. خـو کـه طالبـان يـو بـل کـار وکـا لا بـه ښه وي چـې د نايابـه او کميابـه وحشـي مرغـانو او ځنـاورو ښکـار او نيول بيخي منع کا. کـه يـې مخـه ونـه نيـوه شـي څو کالـه وروسـته

به په افغانستان کې نه ګورېتې، نه بازان او نه باښې وي او نه پړانګان او یېږې د دې یو لند مثال د زمریانو ډې چې نږدې تر ۱۱۳۰ھ پورې په کوزه پښتونخوا کې پیدا کېده او اوس یې نښه هم نشته.

حیات آباد-پېښور

۱۳۹۳/۳/۸

# ورينداري خواره به دې غواړم

## نه د ورور له مرګه

چې زمونږ هېواد يې له خاورو سره برابر کړ، په لکونو افغانان يې شهيدان، په زرګونو عيبي او بې شمېره نور يې مهاجرت او کډوالۍ ته اړ کړه، ښه وشوه چې دغه ملک هم ټوټې ټوټې شو، شوروي اتحاد په روسيه بدل شو او نور نو يو نړيوال ستر قدرت نه ګڼل کېږي.

هغه ناخوالې چې د روسي اشغالګرو له لاسه مونږ افغانانو ليدلي دي، په يادولو يې انسانيت شرمېږي. نور خو څه، زما

پخپله یښنه نه پې سرېږي، کـه لـه دې هـم پسـې خـوار او ذلیلـه شي، خو سره لـه دې هـم یـو متـل دی" ورینـدارې خـواره بـه دې غوارم، نه د ورور لــه مـرګه".

خـدای تـه مـې ورتلـه دي، لـه تاسـې یـې څه پټه کـم، دا مـې هم نه پې لورېږي چې زمونـږ یـو ګاونـډی هـېواد، د شرق یـو ستر قـدرت، هغـه لومړنـی ملـک چـې زمونـږ استقلال یـې پـه رسـمیت پـېژنـدلی و او مونـږ خپـل دوسـت ګڼـه، داسـې پــه سـپکو سـپک شي!

نـن پـه تلویزیـون کـې د پخوانـي شـوروي اتحـاد وروسـتنی جمـهور رئیـس ګوربـاچـوف رابـکـاره شـو او د استریا (اتریش) لــه پاره یــې اعـلان کـاوه، Perestroika, Perestroika یـې ویلـې.

خلک وایي "خـوار خـدای کـړې، دا دومـره تیـټ چـا کـړې!" د یـو څو روپیـو لـه پـاره د پخوانـي شـوروي اتحـاد جمــهور رئیــس راپـاڅـېږي او د استریا لـه پـاره اعلانونـه کـوي. نـور خـو څه، یـاره عجیبه نندارە بە وه کە چـېرې پـه دې وخـت کـې لینـن یـا سـتالین سـر راجـګ کـړی وای او لیـدلی یـې وای چـې ګوربـاچـوف پـه تلویزیون کې د اتریش لــه پـاره پـه اعلانونـو لګیـا دی!!!.

ویانا

۲۰۰۰/۷/۱۸م

# کبیره ګناه

یو وخت به که چا په کابل کې په پښتو خبرې کولې، پسې جوړول به یې چې پلانی متعصب دی. که بل هر څوک به په هره ژبه غږېده، چا څه نه پسې ویلې، خو که پښتانه به پخپله ژبه خبرې کولې، بس د تعصب ټاپه پې لګېده.

دلته په استریا (اتریش) کې زمونږ کډوالو افغانانو نورې اتحادیې هم شته او یوه پکې (د افغانستان د بیا ودانولو

مرستې ټولنه) ده. نو چې دغه ټولنه جوړېده، اساسنامه يې له الماني په پښتو شوه، خو بيا سم له لاسه څوک نه و چې په دري يې کړي.

دلته زما له خولې ورته راووتل چې د افغانانو دا دومره نورې اتحاديې جوړې شوې، يوې هم خپله اساسنامه په پښتو نه ده اړولې، نو که د دې يوې ټولنې اساسنامه په دري نه وي څه به شي؟

ياره زما دا خبره نه وه، بس لکه د مچيو ځالې ته مې چې لاس ور وړی وي او مچۍ مې راپکرولې وي، يوه هنګامه ګډه شوه چې ده ځنګه داسې خبره کړې ده.

ها بله ورځ چيرې ناست وو، چا دا خبره ياده کړه، هسې يادول نه وو، ته به وايې کبيره ګناه مې کړې ده، دومره پاتې و چې په ککره مې خوله راولګوي.

هغه ما ورته وويل، روکيه! دا راته وايه چې زما خبره رښتيا ده او که نه؟ همداسې ده او که بل ډول؟

له ده بله لاره ورکه شوه، ځواب يې نه درلود، نو کا دې چې که مونږ دوی غوندې وکړو، زمونږ او دوی توپير څه شو؟

ما نه غوښتل خبره اوږده کړم او ورته وواېم چې بابا! دوی زمونږ ورونه دي،له مونږ سره برابر دي، زمونږ سيالان دي. دوی لا له مونږه يو څه تکړه دي چې په خپله ژبه او کلتور

تینګ ولاړ دي او له زړه کار ورته کوي، مونږ غوندې خو نه دي.

نو اوس نه پوهېږم چې ما ګناه کړې، زه ګناهګاریم او که دوی؟. ما خو یوه سپینه خبره کړې ده، د رب و دروه پکې نشته، که پکې وي تاسې راته ووایئ!

دوی وګوره چې لویه خبره کوي، ځان پورته ګڼي، خپل هېوادوال د ځان سیالان نه بولي او د وطن دوهمه درجه تبعه ورته ښکاریږي.

په زړه پورې خو دا ده چې هغه په کابل کې به یې په پښتنو پسې خبرې کولې، پښتانه نه وو او دا دلته چې دغسې خبرو پسې ګرځي په ښکاره په خپله هم پښتانه دي.

ویانا

۲۰۰۱/۱/۱م

## محمود غزنوي که هزاران غلام داشت
## عشقش چنـان گرفت که غلام غلام شد

دلتـه بـه چـې کلـه زمونـږ وطنـوالان سـره کېناسـته، د دوی پـه منځ کې بـه کـه وه کـه بـه نـه وه دا خـبره وه چـې ځينـو بـه ويـل پاکسـتان زمونـږ بربـادۍ تـه نښولـې ده، پاکسـتان پـه دې کــې دی چې افغانستان د تباهـۍ يـوې داسـې کنـدې تـه ورتيـل وهـي چـې بيا په عمـر تـرې راونـه خېژي او پـه دې تـوګه افغانسـتان بيـا هـېڅ

کله د پاکستان مخې ته ونښي دربداى، وګورئ پاکستان دى چې زمونږ عسکري نظام يې ړنګ کړه، زمونږ د معارف بوټي يې وويست، داسې يې وکړه او هسې يې وکړه. ان لا وېلې به يې چې پاکستان نه غواړي زمونږ په ملک کې جنګ غلى شي. دوى به له دې خبرو سره بيا بيا دا بيت راوړ:

محمود غزنوي که هزاران غلام داشت

عشقش چنان ګرفت که غلام غلام شد

ځينو نورو به ويل چې نه، داسې نه ده، پاکستان له افغانستان سره د دې له پاره مرسته کوي چې پخپله له تهديدونو سره مخامخ دى او غواړي په سيمه کې خو لږ تر لږه يو دوست ولري. دغه شان پاکستان غواړي د افغانستان له لارې يې منځنۍ آسيا ته لاس ورسېږي، د پايپ لاين موضوع او دغسې نورې خبرې.

څه دروغ ووايم، خداى ته مې ورتله دي، زه پخپله په دغه دوهمه ډله کې راتلم. ما ګومان کاوه هغه کسان چې پاکستان زمونږ پوخ دښمن بولي، نور نور څه يې په زړه کې دي، خو دغه د باميانو د تاريخي مجسمو ورانولو خبره چې منځ ته راغله، نو د پاکستان په برخه کې زما نظر هم بيخي واوښت. ځکه چې که د مجسمو په باره کې افغانستان د نورې ګردې

نړۍ خبره نه وای منلې،نه به یې منله، مګر سره له څپلې
ټولې پښتونولۍ او افغان توبه د پاکستان له خبرې نشو
تیرېدای.

زه وایم که د پاکستان نظامي واکوال جنرال پرویز سترګې ورته برګې کړې وای چې واه مو په ځان، مجسمو ته لاس ورنه وړئ، زوی مې نه دی چې څوک یې له خبرې تیر شوی وای، ځکه نور خو څه کوئ، همدغه ټانک چې په بامیانو کې ولاړ و او سلسال و شامامۍ یې په ګولیو ویشته، پاکستاني تیل پکې پراته وو.

ویانا

مارچ/۲۰۰۱م

# سوکتي

داسې يــو څوک چــې دنيــا لــري، خــو نــې خپلــه خــوري او نــې مېلمه ته ورکــوي، هغــه د چــا خــبره "سپى يې لــه کــوره پــه منډه تــېرېږي" خلک يې ســخت بــولي، ځينـــې ســوکت ورتــه وايـــي، ځينـــې د ممســک نــوم پــې ږدي او دا ښکينـــي ورتـــه وايـــي کنجــوس.

داسې کسان زمونږ پـه ملـک کـې هـم ډېر دي چـــې شـــتمني لـري، خــو نــه يــې خپلــه خرڅوي او نــه يــې څوک خــير و خــيرات

ويني، بله ورځ مړ شي، ټوله هسې تړې پاتې شي. بيا يې نو که په ځای سم څوک پاتې شوه، خو، ښه، که نه هر څا يې چې دولت وواهه او بنګ و بوزې يې که، هغه دى کوي به يې.

دلته په استريا (اتريش) کې هم دغسې کسان شته چې له سخت او سوګته يې هم تېره کړې ده، يو لنډ مثال يې دغه د يېږ ودى. يو وخت دلته يېږې او لېوان پيدا کېده، کوم سل کاله مخکې يې داسې وويشته او ښکار يې کړه چې اوس يې نښه هم نه ده پاتې.

دا يو څو کاله چې په بالقان کې جنګ جګړې شوې، يو څو يېږې د ډزو ډزو له امله يا د لوږې له لاسه په پوله را واوښتې او استريا ته راغلې.

د يېږو اصلي خوراک خو شينيلي او نور بلا بتر دي، کله کله چې اشتها ورشي، ښکار هم کوي. په دغو يو څو يېږو کې، کومې يوې دلته د څا پسه داړلي و، خو د پسه خاوند داسې لوبې وکړې چې د عطار په کوټي کې به هم نه وي، تر دې چې له (WWF) نه يې د پسه تاوان واخيست. په دې يې هم بسنه ونه کړه، آخر يې دغه يېږه وويشته.

دا خو لا څه، يو ډول کم پيدا مرغان دي (کوموران) ورته وايي، دغه مرغان خو دلته ډېر هم نه دي، سره له دې هم د

ځينو کسانو چيغـو او ټنـډارو دنيا ونيـوه چـې کومـوران خـو زمونـږ ماهيان خوري، بايد چـاره يـې وشـي.

د استريايـه دا دومـــره لويـــو لويـــو ډنـــډو او جـــهيلو، دومــره سيندونو او لويـــو لويـــو بيـالو کـې، کومـوران څومـره دي او څومـره کبان به وخـــوري؟

ياره سختي سوکتي هــم حــد و انـدازه لـري، نـه دومـره سـختي سـوکتي!!!

# پلمه

وايي يو لېوه و او په ګاونډ کې يې يو پسه اوسېده. لېوه سترګې ورته پټې کړې وې چې په څه پلمه يې خيرې کا، خو چې هر څه يې کول، پلمه يې نه ورته جوړېده.

يوه ورځ لېوه تږی و، په لښتي پروت دی او اوبه څښي، په دې وخت کې اجل نيولی پسه راغی، په اوبو ور ولوېد چې خپله تنده ماته کا. دلته د لېوه ببړۍ ميره شوه او په هغه پلمه

پسې چې ګرځېده، خدای ورکړه. نو پسه ته دې کا:" دا اوبه ولې راخړوې؟".

پسه ورته وویل:" ته برې اوبه څښې او زه کوزې، نو اوبه زه څنګه خړوم؟". دلته لیوه سم له لاسه پرې ورخیځ کړه او پسه یې له ستوني راونیو چې :"ولې دې په دې غږ خواب راکړ".نو دا دی دوی هم په پلمو پسې ګرځي، د (بن لادن) هسې خبره ده، که دا نه وای بله بهانه به یې ورته لټوله،پلمې خو کمې نه دي. دلته خبره د اسلام او له اسلام سره دښمني ده. یو وخت د دوی په مخ کې کمونیزم و، کمونیزم چې د افغانانو په برکت مات شو، اوس د دوی د سترګو اغزی همدغه اسلام دی او بس.

اسلام دی چې د دوی حاکمیت او باداری نه مني، اسلام دی چې د دوی دا بې سروانښې آزادۍ او کلتور ته غاړه نږدي. دوی د صیهونستانو د بنسټ پالۍ نوم نه اخلي، دوی د هندوانو بنیادګرایي نه يادوي، دوی یوازې او یوازې په اسلام او مسلمانانو پسې رااخیستې ده او د فنډ منتلسټ نوم پې ږدي. دوی نه یوازې د اسلامي افغانستان په ضد ولاړ دي او (بن لادن) یې پلمه کړې، بلکه د نړۍ په هر ګوټ کې چې د اسلام غږ پورته شي، دوی یې بیا مخالفت ته ور رسېدلي وي. (بوزنیا) یې ټوټې ټوټې کړه چې د اروپا په زړه کې یو اسلامي

هېواد جوړ نه شي. همدغه چيغې وهي چې (کوسوو) د يوګوسلاويې يوه نه بېلېدونکې برخه ده، له ډېرو کريغو يې غاړې کيناستې چې (چيچنيا) د روسيې د فدراسيون يوه ټوټه ده.

دوی خو غواړي چې په کشمير، الجزائر، مصر، فيليپين، قفقاز او د نړۍ په نورو سيمو کې د اسلامي نهضتونو مخه ونيسي، مګر دوی چې هر څه خپرې لګوي، لګوي به يې. د حقې لارې کاروان په ځای نه درېږي، خپله لاره وهي او که خدای کول د مقصود سرمنزل ته به رسېږي.

ويانا

۲۰۰۱/۳/۱۲م

# سادو

په جمال مینه کې لا د پوهنتون دغه نوې ودانۍ نه وه جوړه، د ادبیاتو پوهنځی لیلیه په نوي ښار کې د محمود طرزي په کور کې وه. لیلیې ته مخامخ د ترکیې او ایران سفارتونه څنګ په څنګ نښتې پراته وو، لمر خاته پلو د شاه محمودخان کور و او لمر لوېده ته د سلطان محمود د لېانو، نه توبه، د شاه محمودخان د لېانو. د لېانو نوم هسې د پوهنځي هلکانو پې ایښی و. دلته ځینې هغه کسان اوسېدل

چې په سقاوۍ کې له دوی سره وو، که هغه مړه وو، زامن یا لمسیان یې دغلته وو، دوی څه بله وظیفه نه درلوده، خپل کارونه به یې کول، د نُس او شپې کار یې دلته کېده.

د لیلیې مخې ته، د سفارتونو په څنګ کې یوه نرۍ لاره تېره شوې وه، د موټرو نه وه او پلي به پکې تېر و بېر کېده. د ترکیې په سفارت کې د نجونو ښوونځی و، ښوونځی به چې رخصت شو، یو څو نجونې وې، خپلو کورو ته به په دغه نرۍ لاره د لیلیې په مخ کې تېرېدې، په دې نجونو کې یوه داسې چته پېغله هم وه چې په غاړه کې یې اوبه ښکارېدې او سترګې نه ترې ختې.

زمونږ همصنفي و، یاد یې په خیر، په خته طوطاخېل پکتیاوال و، هغه د "قندوموړی" ورته ویلې. هغه وخت هم زمونږ په منځ کې که خبره وه که نه وه، د قندو د موړي وه او اوس چې دغه ده د تحصیل دوره پای ته رسېدلې، عمرونه تېر شوه، په ږیرو او سرو کې مو سپین ولګېده، هغه د (قندو موړي) خبره لا پاتې ده. اوس لا کله چې مونږ دوه درې تنه هغه پخواني ټولګیوال چېرې سره وګرو، مخکې له جوړ تازه، خبره د قندو د موړي وي. قند خو قند دی او موړی چې څینې یې میوړی بولي، ښایي د طوطاخېل مطلب به (سرقند) و، هغه جګ جګ قندونه چې په رنګه رنګه کاغذي پوښو کې به تاو

وو، ښځو به د (خوني) او ډمانو به د (ګل) له پاره اخيستل، نه يم خبر ښايي چې د نورو خلکو به هم په کار وو.

هو رښتيا، زمونږ د ليلېې کوټې ځينې وړې وې او ځينې لويې، وړې دوه کسيزې کوټې هغه چاته رسېدې چې د ليلېې له مدير يا مرستيال سره يې څه ګپ شپ درلوده، که هسې شيطان ټک بل چاته هم وړه کوټه رسېدلې وي، رسېدلې به وي، هغه نه وايم.

ليلېې د ډوډۍ جلا کوټه نه درلوده، چپراسيانو به کوټو ته راوړه. مونږ څلور تنه په يوه کوټه کې وو. نه مې هېرېږي، يوه غرمه وه، مونږ خپل لارې لارې پلاستيکي دسترخوان په غولي غوړولی و او تړې راچاپېر وو. کچالو وو او د مسلخ د کوم کاپر کړاسو جبرغی پکې پرتې وې چې د غاښو زور هم نه پې رسېده.

په مونږ کې به چا يوه مړۍ کړې وه يا به يې نه وه کړې چې د دروازې غنګ شو، څوک راننوت، چې زمونږ د کوټه وال قدرالدين سترګې پې ولګېدې، ورته کا دې: سادو! په خير راغلې، لاس رامينځه. دا نور ورته نيم خيزه شوه، ما پرتلې وهلې وې، څو مې خان ښوراوه، سادو بيا په ډوډۍ ناست و. په دې ورځ مو يو انديوال نه و، کاب يې تيار په دسترخوان ايښی و، قدرالدين هغه د سادو مخې ته ورتېل واهه.

اوس نو زه ډوډۍ خورم او چورت وړی یم چې دا (سادو) به لا څه ته وايي. يو وار مې په زړه کې تېره شوه، مدا به وي چې په عاشورا کې کلي په کلي ګرځي، مدايي کوي، خلک نذر او خيرات ورکوي. بيا مې له ځان سره ويلي چې نه بابا، دا هغه سادو نه دی. هغه سادوګان اوږدې ږيرې لري، چټاک و چالاکه خلک وي او دی خو په ښکاره يو بې خولې، بې ژبې شی دی.

خير، چې ډوډۍ وخوړه شوه، چايجوش په منقل را ايښيده، په الماری کې هم سوندېنه ګوړه وه، يوه انډيوال مو له مشرقي سوغات راوړې وه او هم پتاسې وې. نو چې له خوراک او څښاکه بې غمه شوو، سادو نيمه ګانټه دومره نور هم راسره ناست و، بس جګ شو، خدای پاماني يې وکړه لاړ. دلته زما زړه طاقت ونه کړ او قدرالدين مې وپوښتېده چې دا (سادو) لا څه ته وايي؟ ده ويل نوم يې سادودين (سعدالدين) دی او خلک يې (سادو) بولي. په دغه کال چې قدرالدين په کوټه کې راسره و، کله کله به ساودراته، مونږ هم (سادو) باله، دا لکه چې د ده نوم شوی وي، بده نه پې لګېده.

په دې منځ کې کلونه تېر شوه، مونږ له پوهنځي ووتو، څوک په يوه خوا لاړه، څوک په بله خوا، څوک يو ځای مقرر شوه، څوک بل ځای، زه پخپله د پوهنځي تدريسي کدر ته

راغلم. يو وخت د لوړې زده کړې له پاره بهر ته لاړم، بيا محصل شوم. هلته نور افغانان هم وو، زياتره جره وو، واړه ماړه نه وو راسره، پخپلو کې به مو ها د چا خبره پيکنيکونه کول. څوک چې له خپل کور او ملکه لرې وي، خپل خپلوان نه وي ورسره، خود به دغسې ميلې ميلې کوي چې وخت ښه پې تير شي.

يوه ورځ له ورځو د پوهنتون د خارجي ارتباط مديريت ته ورغلم، څه کار مې و، چې ورننوتم، ګورم يو خو پخپله همدغه مدير په خپله څوکۍ بوک ناست دی، ده ته مخامخ يو بل چا په کوچ کې تکيه کړې ده، يوه پښه يې په بله پښه اړولې، په ډب کې ناست دی.

سم چې زماسترګې پې ولګېدې، شکا کې غوندی شوم چې دغه سړی خو مې چېرې ليدلی دی. ده ښه نوې دريشي اغوستې وه، شخه نکټايي يې تړلې وه، په زنه باندې يې لنډکۍ ترکمني ډوله ږيره ښکارېده. خو چې د ده پزې ته مې پام شو چې له اندازې اوږده وه او پاس په منځ کې يې بند درلود، ګومان مې پې راغی چې دا به سادو وي.

دلته يو بل څوک راننووت او له مدير سره يې پسپسکې راواخيستې، زه ده ته ورنږدې شوم او ورو غوندې مې وپوښتېده چې ته سادو نه يې؟ ده له څه ځنډه وروسته په نيمه

ژبه ځواب راکه چې (يم). زه له ورايه پې پوه شوم چې په ده د (سادو) نوم بد ولګېده او پيکه غوندې شو. ما بيا خبره تاو راتاو کړه او سادودين خان مې وباله. وروسته ښکاره شوه چې ده ځانته د (بانډه وال) تخلص غوره کړی و. پس له دې به مو مخامخ (بانډه وال) ورته ويلې. چې له مديريته راووتو، يوه توټه لاره يوځای وو، بيا دی په خپله مخه لاړ او زه پخپله.

اوس مې په ياد نه دي، خدای مې دې غاړه نه بندوي چې سادو د (يونسکو) له خوا دغلته راغلی و او که د (ايشيا فونډېشن)، خو دومره مې يادېږي چې ښې ډېلې پيسې يې اخيستې، په ښار کې يې چيرې اپارتمان نيولی و او مونږ غوندې په ليليه کې نه اوسېده. له ده سره مې ډېر راشه درشه نه درلوده، کله کله به مې په افغاني سفارت کې ليده يا کله به که چا څه مېله کړې وه.

په دې وخت کې نو سادو هغه پخوانی پټه خوله سادو نه و، د ژبې بند يې نه نيول کېده، داسې روی ترې جوړ شوی و چې پوښتنه مه که. دی به نو چې هر چېرې کېناست او هره خبره به يې کوله دا به يې ويل:" يې مو په نظر" او داسې موضوع به نه وه چې دی په هغه باره کې اظهار نظر ونه کا.

د يوه وطنوال مو تحصيلي دوره پای ته رسېدلې وه، ېرته هيواد ته روان و، مېله يې کړې وه، مونږ لس پنځلس کسه يې

خبر کړي وو، سادو يې هم راغوښتی و. ډوډۍ چې وخوړه شوه، مېوه او چای لا پاتې وو، سادو سګرټ ولګاوه، سګرټ به يې چې کش که، بيا به يې سر پورته خوا ته ونيو او دود به يې له يوه سخوا ښتی ويسته، داسې په ډب کې ناست و چې راشه که يې ګورې. په دې منځ کې دغه افغان چې بېرته وطن ته روان و، چا وپوښتېده چې ته ځې، له دې ځايه څه شی درسره وړې؟

پوښتنه په زړه پورې وه، ټول يو غوږ وو چې ته ودرېږه څه وايي. هغه ځواب ورکه چې زړه مې دی يو (راديوګرام) راسره يوسم. دلته نو سادو ته خدای ورکړه، خبره ورته راپيدا شوه او ورته کا دې: "هغه څه کوې چې درسره وړې يې، (راديودرام) خو په کابل کې هم شته". دلته دا مونږه نورو که هر څومره خپلو نوکانو ته کاته، ځان مو ټينګ نشو کړای او يو دم مو پخ وهل. په مونږ کې ځينو دومره وخندل او داسې له خندا شنه وو چې بيخي يې تشي وخوړېده.

ياره که په دې وخت کې چا سادو سل چړې وهلی وای، يو څاڅکی وينه به نه وه ځنې تويې شوې، وچه ولخه پخپل ځای ناست و، خوارکی سادو.

PROPERTY OF ACKU 9934